# لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً، إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً، إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ» أَوْ قَالَ: «غَيْرَهُ». "مومن سړی دې له مؤمنې ښځې کرکه نه کوي، که د هغې يو خوی يې نه خوښېده، بل به يې خوښ شي» -رواي وايي چې-او يا يې وويل چې بل (يو يې (يعنې بل خوی به يې خوښ شي.

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم مېړه له خپلې مېرمنې سره له دومره کرکې کولو منع کړی چې له هغې سره د ظلم کولو، د هغې د پرېښودلو او له هغې څخه د مخ اړولو لامل ګرځي. انسان له نیمګړتیا سره پیدا شوی، نو که د هغې يو خوی يې نه خوښېده، بل نیک خوی به پکې ومومي چې د ده په مزاج برابر وي او پرې خوښ شي، او کوم بد خوی یې چې نه خوښېده په هغه به صبر کوي، نو صبر کول یې اړباسي دومره کرکه ترې ونه کړي چې له امله یې ترې جلا شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3071